<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

## زموږ د وسله‌والو ځواکونو، ځمکو او دين د حيثيت ساتلو لپاره له امريکا سره د همکارۍ د پای ته رسولو غوښتنه

د نړۍ په کچه د تر ټولو ځواکمن مسلمان پوځ لپاره نوی مشر د يوې ستړي نهيلۍ پرمهال وټاکل شو. د جنرال باجوه د شپږ کلني دردناکي دورې په پای ته رسېدو سره مو د ارام ساه واخيسته. د جنرال باجوه دې تګلارې او فکر چې موږ يې له امريکا سره همکارۍ ته اړ ايستلو؛ زموږ د وسله‌والو ځواکونو شهرت او اعتبار خراب او بې ثباتي او نا امني يې خپره کړه. له دې ځای وروسته د پاکستان د پراخ ظرفيت او پوتانشيل په درک کولو سره له امريکا سره د هر ډول همکارۍ له پای ته رسولو پرته، زموږ د وسله والو ځواکونو حيثيت نه شي خوندي کېدای.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له امريکا سره د هغې همکارۍ د پای ته رسولو غوښتنه وکړئ چې له امله يې اشغال شوی کشمير هند ته پرېښودل شو. د باجوه تګلارې په کشمير کې د جهاد ټول ملاتړ له منځه يووړ او په دې سره يې د هند د پوځ او اقتصاد د کمزورې کېدو مخه ونيوله. د جهاد د اسلامي فريضې په پرېښودلو سره هند ازاد پرېښودل شو چې د امريکا د سيال چين پر وړاندې د امريکا د متحد په توګه راپورته شي، په افغانستان کې ژور نفوذ وکړي او په هند کې زموږ د مسلمانو وروڼو، جوماتو، حجاب او د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حرمت پر وړاندې وحشيانه کمپاين پيل کړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له امريکا سره د هغې همکارۍ د پای ته رسولو غوښتنه وکړئ چې له مخې يې د پاکستان پوځ د "ځان ساتلو" سياست په مخته وړلو سره د هند پر وړاندې کمزوری کوي. د امريکا په امر د باجوه تګلارې "د جګړې لپاره ځای نشته" خيالي افسانې ته وده ورکړه. د امريکا پلان دا دی چې د پاکستان د ځواکمن پوځ ظرفيت د دوی په خبره "مناسبې کچې" ته ټيټ کړي او پوځي او اټومي وړتياوې يې کمې کړي؛ په داسې حال کې چې د هند دا ظرفيتونه په چټکۍ لوړوي. له دې سره، زموږ د اردو افسرانو اوس پر موږ د هند د پوځي او اقتصادي لوړوالي د ناسم تصور له امله خپله روحيه بايللې.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** له امريکا سره د هغې همکارۍ د پای ته رسولو غوښتنه وکړئ، چې افغان مجاهدين يې اړ کړل چې له امريکا سره تړون لاسليک کړي او په دې توګه د ناکام امريکايي پوځ لپاره د وتلو خوندي لار برابره کړي او افغان رهبري د امريکا د نړيوال نظم په دام کې واچوي. له امريکا سره همکاري دا ډاډمنوي چې زموږ پر سرونو د امريکا د بې پيلوټه الوتکو لپاره د "بوليوارډ" هوايي دهليز د پرانيستو له لارې له افغانستان سره پر پوله په قبايلي سيمو کې شخړې روانې وي. زموږ پوځيان اوس زموږ په لوېديځه پوله کې په پراخه کچه بوخت دي، دا هند ته اجازه ورکوي چې په اشغال شوي کشمير او سيمه کې د خپلو موخو مخته وړلو ته بې غمه وي. سربېره پر دې، د باجوه تګلارې د دې مخه نيولې چې پاکستان او افغانستان د يوه دولت په توګه سره يو شي او د هند پر وړاندې لا پياوړي شو.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** د امريکا د استعماري راج د پای ته رسيدو غوښتنه وکړئ چې پر موږ د امريکا د کنټرول وسيله، ډيموکراسي يې ژوندۍ ساتلې. د باجوه امريکايي باداران له دې اندېښمن وو چې په موږ کې د د ډيموکراسۍ د رد او اسلامي نظام، خلافت د غوښتلو نارې په زياتېدو دي. د باجوه تګلارې دا باوري کړه چې موږ بيا خپل مخونه ناکامې ډيموکراسۍ ته واړوو او ژوند يې اوږد کړو. په دې توګه، واکمني له

پاکستان مسلم لیګ – نواز ځخه د پاکستان تحریک انصاف ته او بیا مسلم لیګ – نواز ته واوښته او داخلي ګډوډي یې رامنځته کړه. په حقیقت کې، له امریکا سره همکاري له موږ ځخه دا فرصت اخلي چې د ما أنزالله په حاکمولو سره له ډیموکراسۍ ځان خلاص کړو.

**اې د پاکستان مسلمانانو او د دوی وسله والو ځواکونو!** اوس د نبوت پر منهج د خلافت پر بیا تاسیس ټینګار وکړئ، چې د باجوه د تګلارې او فکر په ګډون به له امریکا سره هر ډول همکاري پای ته ورسوي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**[إِنَّمَا يَنْهَاكُمْ اللَّهُ عَنْ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ]**

**ژباړه:** *«له شک پرته، همدا خبره ده چې الله تعالی تاسو د هغو خلکو له ملګرتیا ځخه منع کوي چې ستاسو سره د دین په معامله کې جنګېدلي دي، تاسو یې له خپلو کورونو ایستلي یاست او ستاسو په ایستلو کې یې له یو بل ځخه ملاتړ کړی دی. له هغوی سره چې کوم کسان ملګرتیا وکړي، هغوی ظالمان دي.»* [ممتحنة ۶۰:۹]

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۴ هـ.ق کال، د جمادي الاول ۱**

**۲۰۲۲م کال، د نومبر ۲۵مه**

**د صدور ګڼه: ۱۷/ ۱۴۴۴**